عنوان: د عامه اداري او پالیسی پوهنځي ستراتیژیک پلان (1404-1408)

ترتیب کوونکي: د ستراتیژیک پلان دتدوین تطبیق او نظارت فرعي کمیته

آخیرنی ترتیب او ډیزاین: نوماند پوهنیار حمیدالله رحیمي

تعداد صفحات: ۱۳۱


تلفن: 0706059694

وبسایت: farahu.edu.af

ایمیل: public_apfaculty@farau.edu.af


د ستراتیژیک پلان کمیتې غړي:

| | |
|---|---|
| پوهنیار حسیب الله ایازي | د کمیتې مسئول |
| نوماند پوهنیار حمیدالله رحیمي | د کمیتې غړی |
| نوماند پوهنیار عصمت الله نیکزاد | د کمیتې غړی |
| نوماند پوهنیار نقیب الله امیري | د کمیتې غړی |
| نوماند پوهنیار صبورخیرمحمدزاده | د کمیتې غړی |


د پوهنتون پته: فراه ولایت، د شفاخانې سړک، د لوا څنګ ته

بسم الله الرحمن الرحيم

د مطالبو فهرست

عنوانونه

پاڼې


د پوهنځي د رئيس پيغام 1

د عامه اداري او پاليسۍ پوهنځي د ستراتيژيک پلان چوکاټ 3

سريزه (دعامه اداري او پاليسۍ پوهنځي پيژندنه او اوسنی وضعيت) 4

د بشري سرچينو تشکيل 5

د پوهنځي د علمي کادر د تحصيلي ارتقا احصائيه 5

د عامه اداري او پاليسۍ پوهنځي د اوسني تشکيل جدول 6

د محصلينو جذب 7

شتمنۍ او ملکيت 7

لرليد 8

ماموريت 8

ارزښتونه 8

موخې 8

د پوهنځي د داخلي او بهرني چاپېريال تحليل 9

د داخلي چاپېريال تحليل 9

د قوت ټکي 9

د ضعف ټکي 10

د داخلي چاپېريال له نظره د پوهنځي د موقف تحليل او ټاکل 11

د خارجي عواملو تحلیل 12
فرصتونه 13
ګواښونه 13
خارجي چاپیریال ته په کتو سره د پوهنځي د موقعیت تحلیل او ټاکل 14
د چاپېريالي عواملو (داخلي او بهرني) پرتله کول 16
د IE میتود 17
د SWOT میتود 18

د ستراتیژیک موقعیت ټاکل 25

د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي د ستراتیژیو ټاکل 25

د کمي ستراتیژیک پلان جوړونې میټریکس (QSPM) پر بنسټ د ستراتیژیو د لومړیتوبونو ټاکل 27
د QSPM میټریکس پر بنسټ د ستراتیژیکو لومړیتوبونو ټاکل 27

د ستراتیژیکو لومړیتوبونو ټاکنه 64

د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه د ستراتیژیک پلان موخې او د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي برنامې 71

په راتلونکو ۵ کلونو کې د علمي کادر غړو جذب: 74

د 1404-1408 هـ.ش کلونو لپاره وړاندیز شوي اداري بستونه 75

د پنځو کلونو لپاره (۱۴۰۸-۱۴۰۴) وړاندیز شوي اداري بستونه په لنډیز ډول 76
۷.۲. د (۱۴۰۸-۱۴۰۴) کلونو لپاره د منظور شوي تشکیلاتو سره سم د اداري بستونو د استخدام وړاندوینه 76
۳. د نصابونو بیا کتنه، پراختیا او تدوین 77
٦. د زیربناوو پراختیا، ښه والی او تجهیزول 79

له لیسانس څخه ماسترۍ ته د پوهنځي د کادرونو ظرفیت لوړول 83

له ماسټرۍ څخه دوکتورا ته د پوهنځي د کادرونو ظرفیت لوړول 83

۹: عادلانه لاسرسی لوړو زده کړو ته او محصلینو ته د استعدادونو د ودې او پراختیا لپاره د خدماتو وړاندې کول 85

د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي لنډ مهاله اهداف 86

۱۲. د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي د راتلونکو پنځه کلونو (۱۴۰۸-۱۴۰۴ ه ل) عملیاتي پلان 86

د راتلونکو پنځو کلونو ( ۱۴۰۴-۱۴۰۸ه ش) لپاره د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي د استراتیژیک پلان بودیجه ریزي: 111

عادي بودجه 111

د عادي بودجې وړاندیز شوې اړتیا د ۱۴۰۴ څخه تر ۱۴۰۸ مالي کلونو پورې 111

. د عادی بودجې وړاندیز شوې اړتیا د ۱۴۰۴ څخه تر ۱۴۰۸ مالي کلونو پورې 114

۳.۱۴. د عادی او انکشافي بودجې وړاندیز شوې پوهنځی د (۱۴۰۸-۱۴۰۴) کلونو لپاره 115

جدول(۲٦): د عادی او انکشافي بودجې مجموع وړاندیز شوې د پوهنځي لپاره د 1404 څخه تر 1408 کلونو پورې 115

د ستراتیژۍ پلي کول 116

د استراتیژي ارزونه 117

د ستراتیژیک پلان له تطبیق څخه لاسته راتلونکې پایلې 119

ضمایم 95

د جدولونو فهرست

پاڼه عنوان

۴ جدول) ۱ :(د بېلابېلو کلونو د تشکیلاتو پر اساس د پوهنځي اداري او کادري بستونه)

۵ جدول) ۲ :(د ذکور علمي کادر غړو تحصیلي سویه)

۵ جدول) ۳ :(د ذکور علمي کادر غړو تحصیلي رتبه)

۶ جدول) ۴ :(د عامه پالیسۍ او ادارې پوهنځي د ذکور او اناث علمي کادر تحصیلي سویه)

۷ جدول) ۵ :(د عامه پالیسۍ او ادارې پوهنځي د ذکور او اناث علمي کادر تحصیلي رتبه)

۷ جدول) ٦ :(د (۱۴۰۲ لمریز کال) تشکیل د بست پر اساس په اداري او کادري تفکیک سره)

۸ جدول) ۷ :(د ذکور او اناث محصلینو جذب) ۱۴۰۸-۱۴۰۴)

۱۰ جدول) ۸ :(د (۱۴۰۴ څخه تر ۱۴۰۸ لمریز کال) کلونو په اوږدو کې د استادانو او محصلینو تناسب

۱۲ جدول) ۹ :(د پوهنځي د داخلي عواملو تحلیل(IFEM)

۱۵ جدول) ۱۰ :(د پوهنځي د خارجي عواملو تحلیل(EFEM)

۱۹ جدول) ۱۱ :(د داخلي عواملو د لومړیتوب ټاکلو ماتریکس)

۱۹ جدول) ۱۲ :(د خارجي عواملو د لومړیتوب ټاکلو ماتریکس)

**پاڼه عنوان**

**۱۹ جدول) ۱۳ :(د پوهنځي د ستراتیژیو د طرح کولو لپاره د SWOT تحلیل ماتریکس)**

**۲۵ جدول) ۱۴ :(د ستراتیژیکو لومړیتوبونو ټاکل)**

**۴۴ جدول) ۱۵ :(د لومړیتوب ټاکلو د ترتیب څخه مخکې د پوهنځي ستراتیژۍ)**

**۴۵ جدول) ۱٦ :(د لومړیتوب ټاکلو د ترتیب څخه وروسته ستراتیژۍ)**

**۴۷ جدول) ۱۷ :(د ستراتیژیک لومړیتوب ټاکل)**

**۵۳ جدول) ۱۸ :(د پوهنځي د رهبرۍ شورا د غړو لیست)**

**۵۴ جدول) ۱۹ :(له ۱۴۰۴ څخه تر ۱۴۰۸ لمریز کال پورې د علمي کادر غړو جذب)**

**۵۴ جدول) ۲۰ :(د راتلونکو ۵ کلونو لپاره د محصلینو د جذب وړاندیز شوی ظرفیت)**

**۵۵ جدول) ۲۱ :(د ۱۴۰۴ څخه تر ۱۴۰۸ کال پورې د اداري بستونو وړاندیزونه په تفصیل سره)**

**۵٦ جدول) ۲۲ :(د ۱۴۰۸-۱۴۰۴ کلونو لپاره د اداري بستونو وړاندیزونه)**

**۵٦ جدول) ۲۳ :(د ۱۴۰۸-۱۴۰۴ کلونو لپاره د منظور شویو تشکیلاتو مطابق د اداري بستونو د استخدام وړاندوینه)**

**٦۳ جدول) ۲۴ :(د عامه پالیسۍ او اداري پوهنځي د علمي کادر د تحصیلي سویې ارتقاء د (۱۴۰۸-۱۴۰۴ لمریز کال) کلونو په اوږدو کې)**

**٦۳ جدول) ۲۵ :(د عامه پالیسۍ او اداري پوهنځي د علمي کادر د تحصیلي سویې ارتقاء د (۱۴۰۸-۱۴۰۴ لمریز کال) کلونو په اوږدو کې)**

پاڼه عنوان


۸۸ جدول) ۲٦ :(د ۱۴۰۴ الی ۱۴۰۸ مالي کلونو لپاره د اړتیا وړ عادي بودجې وړاندیز)

۸۹ جدول) ۲۷ :(د ۱۴۰۸-۱۴۰۴ کلونو لپاره د اړتیا وړ عادي بودجې وړاندیز)

۹۰ جدول) ۲۸ :(د ۱۴۰۴ الی ۱۴۰۸ کلونو لپاره د پوهنځي د عادي او انکشافي بودجې ټولیز وړاندیز)

۹۲ جدول) ۲۹ :(د پوهنځي د ستراتیژیک پلان د تطبیق کمیټې د غړو لیست)


# د شکلونو فهرست

پاڼه شکل


۱۷ شکل) ۱ :(د ستراتیژۍ د نوعیت له لحاظه د پوهنځي د موقعیت ټاکل)

۱۸ شکل) ۲ :(د پوهنځي د ستراتیژیک موقعیت ټاکل)

۲۳ شکل) ۳ :(د پوهنځي د ستراتیژیک موقعیت ټاکل)

# د پوهنځي د رئیس پیغام

الحمد لله على إحسانه و له الشكر على توفيقه و امتنانه و اشهد ان لا إله إلا الله وحده لا شريك له تعظيما لشأنه و اشهد ان سيدنا محمد عبده و رسوله الداعي إلى رضوانه صلوات ربي وسلامه عليه و على آله وصحبه و خلانه و اخوانه و من اهتدى بهديه و تمسك بشريعته إلى يوم الدين. اما بعد:

حمد او ثنا ده هغه لوی او مهربان ذات لره، چې موږ ته يې علم راکړی دی او وروسته يې موږ د خپلو بندګانو لپاره خادمين ګرځولي يو تر څو د هيواد په يوه برخه کې د خپلو هيوادوالو لپاره د توان تر حده کار وکړو او د هيواد د راتلونکي د روښانتيا لپاره مو يو کوچنی قدم اخيستی وي. درود او سلام دې وي د خوږ پيغمبر حضرت محمدصلی الله عليه وسلم ارواح ته، چې د ده له برکته موږ نن ورځ خپل رب پيژنو او له شرک او کفر څخه خلاص او د واحد او لايزال رب ج ته سجده کوو.

د عامه اداري او پاليسۍ پوهنځی د حکومتولۍ د ښه کولو او عامه خدمتونو د مديريت په برخه کې متخصص او مسلکي کسان ټولنې ته وړاندې کوي، چې هدف يې د عامه ادارو د ظرفيتونو لوړول، د پاليسي تحليل او د ټولنې خدمتونو کيفيت ته وده ورکول دي. دغه پوهنځی د عملي مديريت، پاليسي تحليل، قانون، اخلاقو او نوښت په برخو کې زده کړې وړاندې کوي، تر څو مسلکي کسان وروزي چې د خلکو اړتياوې په مؤثره توګه پوره کړي. د دې پوهنځی ارزښتونه د شفافيت، حساب ورکونې، او ټولنيز عدالت پر بنسټ ولاړ دي، چې د خلکو د نظرياتو په درناوي سره د پاليسي ګانو طرحه او تطبيق ته وده ورکوي.

د عامه اداري او پاليسۍ پوهنځي ستراتيژيک پلان د پوهې، نوښت او اغيزمنو خدماتو د وړاندې کولو لپاره يو مهم لارښود دی، چې هدف يې د پوهنځي د علمي کادر د ظرفيتونو او مهارتونو ته وده کول دي ترڅو د ټولنې اړتياوې په غوره توګه پوره شي. د نړيوالو او محلي چلنجونو په وړاندې اړتيا ده، چې د عامه اداري او پاليسۍ پوهنځی نوې ستراتيژۍ او پاليسي ګانې رامنځته کړي. دغه ستراتيژي د شفافيت، حساب ورکونې، او ګډون په اصولو بنا ده، چې د ټولنې د ټولو برخو سره همغږي او همکارۍ ته لاره هواروي. د دقت او څيړنې له لارې، موږ د عوامو د نظرياتو او تجربو څخه ګټه اخلو تر څو د پاليسي ګانو او خدماتو کيفيت لوړ کړو. په دې توګه، د عامه اداري او پاليسۍ پوهنځي ستراتيژيک پلان د يو نوې دور پيل دی او جوړول يې زموږ د اداري لپاره يوه حياتي اړتيا وه، چې زموږ د اهدافو او دندې روښانه کولو له لارې به موږ ته د تاثير او کړنې په لاره کې لارښوونه وکړي.

زموږ د اداري هدف د عامه خدمتونو د کيفيت لوړول، د پاليسي جوړونې پروسې ته وده ورکول او د ټولنې اړتياوو ته ځواب ويلو لپاره نوښتونه وړاندې کول دي. موږ په دې پوهيږو چې د عامه اداري مؤثريت د شفافيت، حساب ورکونې او د خلکو د ګډون پر بنسټ ولاړ دی. د دې لپاره، موږ د ستراتيژيک پلان په جوړولو کې د ټولو ذينفعو د نظرونو، تجربو او وړانديزونو ته غوږ نيولی دی. دا د دې لپاره مهمه وه، چې زموږ پلان د ټولنې د اړتياوو او غوښتنو سره سمون ولري او د بدلونونو په وړاندې د چمتووالي احساس رامنځته کړي. د دې ستراتيژيک پلان د جوړولو په پروسه کې، موږ د مؤثرو ميتودونو او وسايلو کارولو ته ځانګړې پاملرنه کړې ترڅو د پلان د تطبيق او ارزونې پروسه اسانه او

مؤثره شي. موږ به د شفافیت او حساب ورکونې لپاره میکانیزمونه جوړ کړو، چې د ادارې داخلي او خارجي تعاملات به لا نور هم قوي کړي. د عامه ادارې د موثر مدیریت لپاره به موږ د روزنې او ظرفیت جوړونې پروګرامونه رامنځته کړو، ترڅو زموږ کارمندان د نوو مهارتونو او پوهې سره سمبال شي. د نوښتونو ملاتړ او د ټکنالوژۍ نوې حل لارې کارول به زموږ د ادارې د فعالیتونو په پراختیا کې مرسته وکړي.

زموږ د ستراتیژیک پلان اساسي برخه د ټولنې د ګډون او همکارۍ زیاتول دي. موږ به د خلکو، مدني ټولنو او نورو شریکانو سره د اړیکو پراختیا ته ځانګړې پاملرنه وکړو. دا به موږ ته اجازه راکړي، چې د خپلې ادارې فعالیتونه د خلکو د اړتیاوو او غوښتنو سره سمون ولري.

د دې پلان د جوړښت په موخه لومړی یوه کمیټه تشکیل شوه، چې د متواترو جلساتو او فعالیتونو په ترڅ کې یې وکولای شول د پوهنځي اوسنی وضعیت، فرصتونه او ننګونې و څېړل شوې او له ارزونې وروسته یې د پوهنځي اولویتونه مشخص کړل او د اولویتونو او اهدافو ته د رسیدلو په موخه یې د ټولو ذینفعه ادارو څخه نظرونه و غوښتل او د ټولنې د اړتیاو او غوښتنو په نظر کې نیولو سره یې خپلې ستراتیژي ګانې ترتیب او لومړیتوبونه یې مشخص کړل. د پوهنځي ریاست د دې کمیټې له ټولو غړو، د پوهنځي له اداري مدیرانو او ټولو هغه کسانو چې د پلان په جوړیدو کې یې له زړه نه شپه او ورځ کار کړی دی، د زړه له تله مننه کوي او د الله جل جلاله له لوی درباره ورته د دنیا او آخرت په چارو کې بریا غواړي. هیله لرو، چې د دې پلان په تطبیق سره به د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه ټاکل شوو اهدافو ته هم رنګ ورکړو او د هیواد د اداري سیستم کې به یو کوچنی او مثبت تغیر راشي. د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي د ستراتیژیک پلان جوړول نه یوازې د ادارې د اهدافو او دندو روښانه کولو لپاره مهم دي، بلکې د ټولنې د پرمختګ او د خلکو د خدمت کولو لپاره هم حیاتي دي. موږ د همکارۍ، نوښت او شفافیت په روحیه کې کار کوو ترڅو په بریالیتوب سره د دې پلان پلي کولو ته ورسیږو.

د یو آباد، سوکاله، پرمختللي او تلپاتې اسلامي نظام په هیله

**په درنښت**

**پوهنیار حسیب الله ایازي**

**د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي رئیس**

## د عامه اداري او پالیسۍ پوهنځي د ستراتیژیک پلان چوکاټ

د ستراتیژیک پلان د جوړیدو لپاره ترتیب شوی موډل په دريې عمومي فازونو ویشل شوی دی. لومړی فاز د پوهنځي د اوسنی وضعیت تحلیل ترتیب او تدوین دی، چې په دوو مرحلو کې ترسره کیږي. لومړی مرحله د پوهنځي پېژندنه (د داخلي چاپیریال وضعیت) دی، د دې مرحلې د تحقق لپاره فورمې ترتیب شوې او معلومات راټول شوي دي. په حقیقت کې د دې ګام هدف دادی، چې د عامه اداري او پالیسۍ پوهنځي د پروفایل په نوم یادیږي، د پوهنځي اوسنی وضعیت د کمیت او کیفیت له لحاظ پېژندل دي، چې په اساس یې د پوهنځي ځواکمن او کمزوري نقاط پیژندل شوي او لیست شوي دي. په دوهمه مرحله کې د پوهنځي خارجي چاپیریال څېړل شوی، چې په اساس یې د دې پوهنځي مخې ته فرصتونه او ګواښونه پیژندل شوي او لیست شوي دي. دوهم فاز د پوهنځي د ستراتیژیو لومړیتوبونه ټاکل، د لنډ مهال اهدافو ټاکل، د کلني کاري پلان ترتیبول او د عامه اداري او پالیسۍ پوهنځي د زیربنا پراختیا ده. دریم فاز د پالیسیو جوړول او پلي کول، او د پنځه کلن ستراتیژیک پلان ارزونه او نظارت دی.



## سریزه (دعامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي پېژندنه او اوسنی وضعیت)

فراه د لوړو زده کړو مؤسسه د هیواد په کچه یو علمي او څېړنیز مرکز دی، چې په (۱۳۹۱) کال کې تأسیس شوی دی. د دې پوهنتون موخه د کرنې، ښوونې او روزنې، اقتصاد، شرعیاتو او عامه ادارې او پالیسۍ په برخه کې د فني، مسلکي او متخصص افرادو روزل دي. د همدې موخې په خاطر د لوړو زده کړو وزارت له خوا په (۱۴۰۲) کال کې د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي تأسیس وشو. هدف یې د عامه ادارې او پالیسۍ په برخه کې د محققانو او مسلکي کارپوهانو روزنه، د هیواد په اداري سیستم کې مثبت بدلون، د موجودو کسانو د مسلکي مهارتونو لوړول، نوښت، نوې حل لارې او پالیسي جوړونه او د یو باثباته هیواد لپاره کادرونه روزل دي.

د لوړو زده کړو وزارت د عالي شورای په ۱۴۴۴/۱۱/۳ هـ ق کال مطابق ۱۴۰۲/۲/۲ او (۸) شمیرې غونډې کې د دوو څانګو (عامه ادارې او عامه پالیسي) په درلودلو او د لوړو زده کړو وزارت د علمي برنامو د پراختیا محترم ریاست د ۱۴۴۴/۱۱/۴ نیټې او (۱۰۶۹) ګڼې مکتوب او مصوبې په اساس د عامه ادارې او پالیسۍ خپلواک پوهنځی د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه په چوکاټ کې د پنځم پوهنځي په توګه ایجاد او په ۱۴۰۳/۶/۱۵ نېټه یې رسماً خپل فعالیت پیل کړ. د دې پوهنځي د تاسیس موخه د ټولنې د اړتیاوو سره سم د ځوانانو، متخصصینو او بشري ځواک روزنه، په مدیریت، رهبري او پالیسي جوړونې کې، او همدارنګه په سیمه ییزه او نړیواله کچه د عامه ادارې په برخه کې سیالي کول دي. دا پوهنځی دوه څانګې لري: عامه اداره او عامه پالیسي، چې اوس مهال زده کوونکي په کې په مسلکي زده کړو بوخت دي. د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي په خپل لومړي کال کې د ۱۴۰۳ کال د کانکور له لارې په دواړو څانګو کې ۸۰ تنه محصلین جذب کړل .دا محصلین تر څلورم سمستر پورې عمومي مضامین لولي او له هغه وروسته د خپلې علاقې او د پوهنځي د داخلي قوانینو، مقرراتو او طرزالعملونو پر اساس په بېلابېلو څانګو کې وېشل کېږي. د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي محصلین د تیوریکي زده کړو ترڅنګ په اووم او اتم سمستر کې د عملي زده کړو او کاري تجربې لپاره په دولتي ادارو ته استول کېږي، ترڅو هغه تیوریکي زده کړې، چې په پوهنځي کې یې ترلاسه کړې دي، په عملي ډګر کې یې زدکړي . په هره اداره او په څانګړې ډول په تحصیلي او اکاډمیک چاپېریال کې د بریالیتوب او کامیابۍ لپاره مشخص پلان او لیدلوری یو له اساسي اړتیاوو څخه دی. نو څکه د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځی د یو اکاډمیک، خوځنده او متحرک چاپېریال په توګه هڅه کړې، چې د لوړو زده کړو وزارت او د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه د پلان او موخو په رڼا کې خپل مشخص ستراتیژیک پلان طرح او تدوین کړي. د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي د خپلو کمزورو ټکو په پېژندلو پر خپلو قوي ټکو باندې په تکیه او د شته فرصتونو څخه په ګټې اخیستنې سره د خپل پنځه کلن پلان (۱۴۰۴-۱۴۰۸) ستراتیژۍ ترتیب او تدوین کړې دي.

## د بشري سرچینو تشکیل

لاندې جدول د ۱۴۰۲ او ۱۴۰۳ هجري لمریز کلونو په اوږدو کې د لوړو زده کړو وزارت له لوري د منظور شوي او تعدیل شوي تشکیل پر اساس د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي ټول پرسونل د اداري او کادري بستونو په تفکیک سره ښیي.

(۱) جدول: د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي کادري او اداري بستونه د ۱۴۰۲ او ۱۴۰۳ هجري شمسي کلونو د تشکیل پر اساس

| کلونه | اداری بستونه | کادری بستونه | | مجموع بست‌ها |
|---|---|---|---|---|
| ۱۴۰۲ | ۲ | دوهم بست | ۱ | ۱۱ |
| | | دریم بست | ۲ | |
| | | څلورم بست | ٦ | |
| ۱۴۰۳ | ۲ | دوهم بست | ۱ | ۱۱ |
| | | دریم بست | ۲ | |
| | | څلورم بست | ٦ | |

سرچینه: په پوهنځي کې شته معلومات

## د پوهنځي د علمي کادر د تحصیلي ارتقا احصائیه

د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه  د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځی یو دوهم رتبه کادري بست لري، چې د دې پوهنځي د رئیس بست دی. همدارنگه دوه دریم رتبه کادري بستونه لري، چې د عامه ادارې او عامه پالیسۍ د څانګو د آمرینو بستونه دي او شپږ رسمي اکاډمیک څلورم رتبه بستونه لري، چې استادان په کې گمارل شوي دي. یو څلورم رتبه اداري بست د تدریسي عمومي مدیریت لپاره او یو پنځم رتبه اداري بست د څانګو د اجراییوي مدیریت لپاره دی.

(۲)جدول: د علمي کادر د تحصیل کچې

| تحصیلی کچه | | | |
|---|---|---|---|
| ډاکتر | ماستر | لیسانس | **مجموع** |
| 0 | 1 | 5 | **6** |

(۳) جدول: د علمی کادر غړو علمی رتبې

| علمي رتبې | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پوهاند | پوهنوال | پوهندوی | پوهنمل | پوهنیار | پوهیالی | نوماند پوهنیار | **مجموع** |
| 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | 5 | **6** |




# د عامه اداري او پالیسۍ پوهنځي د اوسني تشکیل جدول

د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه  د عامه اداري او پالیسۍ پوهنځي د ۱۴۰۳ مالي کال په تشکیل کې(۹) منظور شوي بستونه لري، چې په لاندي جدول کې د بستونو په تفکیک سره ښودل شوي دي.

(۴) جدول: د ۱۴۰۳ کال تشکیل د اداري او کادري بستونو په تفکیک سره

| تشکیل / بست | بست | | | | | | | بالمقطع (حق الزحمه) | مجموعه | کتنی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | | | |
| **اداری بستونه** | 0 | 0 | 1 | 1 | 0 | 2 | 0 | 0 | 4 | |
| **خالی اداری بستونه** | 0 | 0 | 0 | 0 | . | . | . | 0 | 0 | |
| **اکاډمیک بستونه** | 1 | 2 | 6 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 9 | |
| **خالی اکاډمیک بستونه** | 0 | 0 | 2 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 2 | |

سرچینه: په پوهنځي کې شته معلومات

## د محصلینو جذب

عامه اداري او پالیسی پوهنځی د خپل فعالیت په لومړي کال کې (د ۱۴۰۳هجری لمریز) کال د عمومي کانکور د سیالۍ له لارې په دواړو څانګو کې (۸۰) تنه محصلین جذب کړل .دا محصلین تر څلورم سمستر پورې په عمومي ډول زده کړې کوي او له څلورم سمستر وروسته د قوانینو، مقرراتو او د پوهنځي د داخلي طرزالعمل پر اساس اړوندو څانګو ته معرفي کیږي. هر کال د عامه اداري او پالیسی پوهنځي علمي پروګرامونو ته غوښتونکي د کانکور (عمومي او اختصاصي) ازموینې له لارې دې پوهنځي ته جذبیږي.

(۵) جدول: د ۱۴۰۳ هجري شمسي کال د نارینه محصلینو جذب

| سال | دنارینه محصلینو شمیر | د اناث محصلینو شمیر | مجموعه |
|---|---|---|---|
| 1403 | 80 | 0 | **80** |

سرچینه: په پوهنځي کې شته معلومات

(٦) جدول : د ۱۴۰۳ هجري شمسي کال د استادانو او محصلینو تناسب

| تحصیلی کال | دمحصیلنومجموعه | دعلمی کادر غړی | دعلمی کادر او محصلینو تناسب |
|---|---|---|---|
| 1403 | 51 | 5 | **10.2** |

سرچینه: په پوهنځي کې شته معلومات

د پورته جدول له مخې، په ۱۴۰۳ هجري شمسي کال کې د پوهنځي د دواړو څانګو د محصلینو موجوده شمېر ۸۰ تنه دی.

## شتمنې او ملکیت

دعامه اداري او پالیسی پوهنځی اوس مهال د کرنې پوهنځي په ودانۍ کې فعالیت کوي، چې یو د پوهنځي ریاست دفتر، یو تدریسي مدیریت دفتر، یو تدریسي ټولګی او د دوو څانګو (عامه اداره او عامه پالیسي) لپاره یو ګډ دفتر لري.

## لرلید

د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځی د خپلو علمي – څېړنیزو کړنو په ترسره کولو سره غواړي، چې د هیواد د اداري سیستم د پرمختګ، د عامه خدمتونو د ښه کولو او پالیسۍ جوړولو په برخه کې متخصص او مسلکي کادرونه وروزي، تر څو د هیواد په کچه د یو لوی علمي مرکز او پوهنځي په توګه وپېژندل شي.

## ماموریت

د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي ماموریت دا دی، چې د متخصص، مسلکي او متعهد کادرونو په واسطه د مسلکی او اکادمیک اخلاقو په رعایت کولو سره وړ او متعهد کسان وروزی، تر څو د هیواد د اداري سیستم د پرمختګ، اغیزمنې پالیسي جوړونې او رهبري په برخه کې کار وکړي او د علمي څېړنو، نوښتګرو حل لارو او عصری تکنالوژۍ پر بنسټ د هیواد په اداري سیستم کې مثبت بدلون راشي.

## ارزښتونه

1. د اسلامي، ملي او اکادمیک ارزښتونو احترام او ساتنه؛
2. په اداري او اکادمیک چارو کې ریښتینولي، نوښت او خلاقیت؛
3. د شایسته سالارۍ اصل په درک سره د سپارل شویو چارو په ترسره کولو کې د مسؤلیت منل او حساب ورکول؛
4. عالي مدیریت او د مسلکي اصولو او اخلاقو په رڼا کې د علم او عالم درناوی؛
5. شفافیت، ټیمي کار او مؤثره رهبري.

## موخې

1. د عامه ادارې او پالیسۍ په برخه کې د لیسانس په کچه د مسلکي او متخصص کادرونو روزنه؛
2. په پوهنځي کې د فزیکي او ټکنالوژیکي زیربنا پراختیا او انکشاف؛
3. د متخصصو علمي او مسلکي کادرونو جذبول؛
4. د علمي کادر غړو او اداري کارکوونکو تحصیلي او مسلکي ظرفیت لوړول؛
5. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه سره د اعتبارنامې په ترلاسه کولو کې همکاري؛
6. د اړوندو ادارو سره د تفاهم لیکونو امضا کول؛
7. د ټولنې اړتیاوو پر بنسټ د تحقیقاتي او مطالعاتي فعالیتونو پراخول.

# د پوهنځي د داخلي او بهرني چاپېريال تحليل

## د داخلي چاپېريال تحليل

يو له هغو بنسټيزو ځانګړنو او توپيرونو څخه، چې ستراتيژيک پلان جوړونه يې له نورو پلانونو سره لري، د سازمان د داخلي چاپېريال عواملو ته پاملرنه ده، چې د يوې ځانګړې پروسې له مخې پلانګذاري کېږي. د چاپېريالي عواملو څخه موخه هره هغه پېښه، بهير، سرچينې، وړتياوې او چاپېريالي ښکارندنې دي، چې د سازمان پر فعاليت اغېزه کوي. هغه چاپېريالي عوامل، چې د سازمان د مديريت په واک او کنټرول کې نه وي او مديريت نه شي کولای په مستقيم ډول پرې اغېزه وکړي، د سازمان له بهرني چاپېريال يا بهرنيو عواملو سره تړاو لري او نور هغه عوامل، چې د سازمان د مديريت په لاس کې وي، د سازمان له داخلي چاپېريال سره تړاو لري.

د داخلي چاپېريال عواملو تحليل د IFEM (Internal Factor Evaluation Matrix) په مټ ترسره کېږي، چې لاندې داخلي عوامل (قوتونه او ضعفونه) په کې راغلي دي.

## د قوت ټکي

1. د ځوان او متخصص علمي کادر لرل؛
2. د اداري او تدريسي چارو د پرمختګ لپاره کاري انګېزه لرل؛
3. په تدريسي او اداري چارو کې د عصري ټکنالوژۍ کارول؛.
4. د دې پوهنځي د علمي کادر غړو لخوا د څېړنو د ترسره کولو لپاره د تحليلي او احصايوي پروګرامونو سره بلدتيا؛
5. په پوهنځي کې د عصري اداري او تدريسي وسايلو شتون؛
6. د اداري او تدريسي ودانيو د جوړولو لپاره کافي ځمکه درلودل؛
7. د علمي کادر غړو لخوا د څېړنو د ترسره کولو لپاره د کافي انګېزې شتون؛
8. د ليسانس په کچه د علمي، مسلکي او متخصص کادر روزنه او ټولنې ته يې وړاندې کول؛
9. د ټولنيزو ستونزو د حل لپاره د پاليسي جوړونې په برخه کې څېړنې کول؛
10. په فرهنګي، ټولنيزو او ملي برخو کې د ټولنې په پرمختيايي پروګرامونو کې د علمي کادر د غړو ګډون؛
11. له کورنيو او بهرنيو بنسټونو سره د مالي او علمي همکاريو د ترلاسه کولو لپاره د اړيکو زياتوالی؛
12. په اداري او اجرايوي چارو کې سالم، اغېزمن او وړ مديريت؛
13. د عامه اداری او پالیسی پوهنځي ځانګړيز (بین رشته ای) والی.

## د ضعف ټکي

1. د علمي کادر د لاړښوونې لپاره د لوړ رتبه استادانو (پوهندوی، پوهنوال او پوهاند) نشتوالی؛
2. په پوهنځي کې د ځانګړي کمپیوټر لب نشتوالی؛
3. په پوهنځي کې د انټرنېټ کمزورتیا؛
4. د پوهنځي لپاره د اداري او تدریسي ودانۍ نشتوالی؛
5. د پوهنځي لپاره د ځانګړي کنفرانس تالار نشتوالی؛
6. د پوهنځي لپاره د ځانګړي کتابتون نشتوالی؛
7. د څېړنو لپاره د مناسبو وسایلو (برېښنايي کتابتون او نور) نشتوالی؛
8. په پوهنځي کې دبولټن خبری (نشريې) نشتوالی؛
9. د مالي توامیتونو کم استفاده؛
10. د پوهنځي د کادري او اداري غړو د مسلکي کولو لپاره د روزنیزو پروګرامونو نشتوالی؛
11. په پوهنځي کې د برېښنايي کتابتون نشتوالی؛
12. د پوهنځي د اړتیا سره سم د تشکیل کموالی؛
13. په ملي ژبو د عصري (اپډیت) تدریسي سرچینو نشتوالی.

| داخلي عوامل | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 1- د قوت ټکي | | | | |
| شمېره | مهم فکتورونه | ضریب | رتبه | آخرنۍ نمره |
| 1 | د ځوان او متخصص علمي کادر درلودل؛ | 0.0370 | 2.972 | 0.110 |
| 2 | د اداري او تدریسي چارو د پرمخ وړلو لپاره د کاري انګېزې درلودل؛ | 0.0390 | 3.296 | 0.129 |
| 3 | په تدریسي او اداري چارو کې د عصري ټکنالوژۍ کارول؛ | 0.0395 | 3.141 | 0.124 |
| 4 | د څېړنو لپاره د تحلیلي او احصايوي پروګرامونو سره د دې پوهنځي د علمي کادر اشنايي؛ | 0.0400 | 2.986 | 0.119 |
| 5 | په دې پوهنځي کې د عصري اداري او تدریسي وسايلو شتون؛ | 0.0400 | 2.901 | 0.116 |
| 6 | د اداري او تدریسي زیربناوو د جوړولو لپاره د کافي ځمکې درلودل؛ | 0.0420 | 3.380 | 0.142 |
| 7 | د علمي کادر د غړو لخوا د څېړنو د ترسره کولو لپاره د کافي انګېزې شتون؛ | 0.0400 | 3.282 | 0.131 |
| 8 | د لیسانس په کچه د علمي، مسلکي او متخصص کادر روزنه او ټولنې ته وړاندې کول؛ | 0.0390 | 3.310 | 0.129 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 9 | د ټولنې د ستونزو د حل لپاره د پالیسۍ جوړولو څېړنې ترسره کول؛ | 0.0350 | 3.000 | 0.105 |
| 10 | په فرهنګي، ټولنیزو او ملي برخو کې د ټولنې په پراختیایي پروګرامونو کې د علمي کادر د غړو ګډون؛ | 0.0300 | 2.986 | 0.090 |
| 11 | د داخلي او بهرنیو بنسټونو سره د مالي او علمي همکاریو د ترلاسه کولو لپاره د توامیتونو زیاتول؛ | 0.0380 | 2.831 | 0.108 |
| 12 | په اداري او اجرایيوي چارو کې سالم، اغېزمن او وړ مدیریت؛ | 0.0320 | 3.169 | 0.101 |
| 13 | د عامه اداري او پالیسۍ د پوهنځي بین الرشتوي والی. | 0.0400 | 3.099 | 0.124 |
| | 2- د ضعف ټکي | | | |
| 1 | د علمي کادر غړو د لاربنوونې لپاره د لوړ رتبه استادانو (پوهندوی، پوهنوال او پوهاند) نشتوالی؛ | 2.451 | 2.451 | 0.098 |
| 2 | د پوهنځي په کچه د ځانګړي کمپیوټر لب نشتوالی؛ | 2.310 | 2.310 | 0.092 |
| 3 | د پوهنځي په کچه د انټرنېټ ضعیفوالی؛ | 2.282 | 2.282 | 0.091 |
| 4 | د پوهنځي لپاره د اداري او تدریسي ودانۍ نشتوالی؛ | 2.465 | 2.465 | 0.101 |
| 5 | د پوهنځي لپاره د ځانګړي کنفرانس تالار نه درلودل؛ | 2.423 | 2.423 | 0.097 |
| 6 | د پوهنځي لپاره د ځانګړي کتابتون نشتوالی؛ | 2.535 | 2.535 | 0.101 |
| 7 | د څېړنو لپاره د مناسبو وسایلو نه درلودل (بریښنایي کتابتون او نور)؛ | 2.282 | 2.282 | 0.080 |
| 8 | د پوهنځي په کچه د خبري بولټن نشتوالی؛ | 2.141 | 2.141 | 0.083 |
| 9 | له مالي توامیتونو څخه لږ ګټه اخیستل؛ | 2.155 | 2.155 | 0.082 |
| 10 | د پوهنځي د کادري او اداري غړو د مسلکي کولو لپاره د روزنیزو پروګرامونو نشتوالی؛ | 2.338 | 2.338 | 0.082 |
| 11 | د پوهنځي په کچه د بریښنایي کتابتون نشتوالی؛ | 2.296 | 2.296 | 0.088 |
| 12 | د پوهنځي د اړتیا سره سم د تشکیلاتو کموالی؛ | 2.408 | 2.408 | 0.096 |
| 13 | په ملي ژبو کې د تازه درسي سرچینو نشتوالی. | 2.211 | 2.211 | 0.093 |
| | د ضرایبو مجموع او د داخلي عواملو آخرینی نمره | | | 2.71361 |

## د داخلي چاپېریال له نظره د پوهنځي د موقف تحلیل او تاکل

په دې مرحله کې لومړی د عامه اداري او پالیسۍ پوهنځي د داخلي چاپېریال د تحلیل اړوند جدول د قوت او ضعف فکتورونو سره جوړ شوی او له نمرې ورکولو او امتیاز ورکولو وروسته تحلیل شوی دی.

(۷)جدول: د پوهنځي د داخلي عواملو تحلیل (IFEM)

سرچینه: د پوهنځي د ستراتیژیک پلان کمېټې موندنې

د عامه اداري او  پالیسي پوهنځي د داخلي عواملو د تحلیل لپاره لومړی د ویشل شویو پوښتنلیکونو پر بنسټ، د قوت او ضعف په برخو کې د هر مشخص معیار لپاره، د نسبی فریکونسی پر بنسټ یو ضریب ټاکل شوی دی. په دې ډول چې کم امتیاز ته ۱، متوسط امتیاز ته ۲، زیات امتیاز ته ۳، او ډېر زیات امتیاز ته ۴ په پام کې نیول شوي دي. د هر معیار امتیازونه په پوښتنلیکونو کې سره جمع شوي او د ضریب د ټاکلو لپاره له لاندې فورمول څخه کار اخیستل شوی دی:

$$C = \frac{P_{x_i}}{\sum P_{x_i}} \rightarrow \text{دمعیار ضریب} = \frac{\text{د هرمعیار مجموعي نمره (ټولوپوښتنپاڼو)}}{\text{دداخلي عواملو دمعیارونو مجموعي نمره (دقوت اوضعف ټکي)}}$$

په دې فورمول کې:

C = د هر معیار ضریب

$P_{xi}$ = په ټولو پوښتنلیکونو کې د هر معیار مجموعی امتیازونه

$\sum P_{xi}$ = د داخلي عواملو د معیارونو د امتیازونو مجموعه/ټولګه

همدارنګه د داخلي عواملو د هر معیار لپاره د رتبې ټاکل په دې ډول دی، چې د هر معیار د لومړیتوب او اهمیت پر بنسټ، له ۱ څخه تر ۴ پورې رتبه ټاکل شوې ده. د معیارونو لپاره لومړیتوبونه د هغوی د اهمیت درجې په پام کې نیولو سره په دې ډول دي، چې د قوت لپاره ۴ مه رتبه د فوق العاده قوت په معنی، او ۳ مه رتبه د عادي قوت په معنی ګڼل شوې ده. همدارنګه د ضعف لپاره ۲ مه رتبه د معمولي ضعف په معنی او ۱ مه رتبه د شدید ضعف په معنی ګڼل شوې ده.

## د خارجي عواملو تحلیل

د بهرني چاپېریال د پېژندنې په موخه هڅه کېږي هغه بهیرونه او پېښې، چې د اداري له کنټرول څخه بهر دي وپېژندل شي او و ارزول شي. د بهرنیو عواملو په ارزونه کې هڅه شوې ده هغه فرصتونه او ګواښونه، چې اداره ورسره مخ کېږي وپېژندل شي ترڅو مدیران وکولای شي د مناسبو ستراتیژیو په جوړولو سره له فرصتونو څخه ګټه پورته کړي او د ګواښوونکو عواملو اغېزې تر یوه بریده راکمې کړي .په ادامه  کې د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه  د عامه اداری او  پالیسی پوهنځي د داخلي او بهرنیو عواملو تحلیل او تجزیې ته د سوات د تحلیل په میتود تر څېړنې لاندی نیول شوې ده. په دې پړاو کې لومړی د پوهنځي د بهرني چاپېریال د تحلیل اړوند جدول د فرصتونو او ګواښونو سره د (EFEM) ماتریکس پر بنسټ په لاندې ډول ترتیب شوی دی.

## فرصتونه

۱ .د علمي کادر غړو د ظرفیت لوړولو زمینې شتون ؛
۲ .د اسلامي امارت له خوا د تحصیلي بنسټونو ملاتړ؛
۳ .په ولایت کې د انټرنېټ د پیاوړتیا لپاره د نوري فایبر شتون؛
۴ .په موسسه کې د کمپیوټر لب شتون؛
۵ .په موسسه کې د علمي څېړنو د خپرولو لپاره د ځانګړې علمي مجلې شتون؛
٦ .د ټولنې د ستونزو د حل لپاره د پالیسي جوړونې څېړنو څخه د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه ملاتړ؛
۷ .د دې پوهنځي د هوکړه لیکونو د ډیریدو لپاره د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه همکاري؛
۸ .د لوړو زده کړو وزارت له خوا د ارتباطي او معلوماتي زیربناوو او امکاناتو پراختیا ته پاملرنه؛
۹ .د دې رشتې د فارغانو لپاره د کارموندنې زمینې شتون؛
۱۰ .د څېړنیزو پروژو طرح او تمویل ته د ځینو ملي او بین المللي موسسو لېوالتیا؛
۱۱ .د لوړو زده کړو وزارت له خوا د څېړنې پر محور د تعلیمي سیستمونو رامنځته کولو ته پاملرنه؛
۱۲ .د هېواد د اداري سیستم د ښه والي او عصري کولو اړتیا؛
۱۳ .په پوهنځي کې د شاملېدو لپاره د خلکو ډېره تقاضا او لېوالتیا.

## ګواښونه

۱.د علمي کادر غړو لپاره د بهرنیو بورسونو نشتوالی؛
۲ .د علمي کادر د غړو د علمي ترفیعاتو لپاره د ډېر وخت اړتیا؛
۳ .د ټکنالوژیکو پروسو د پراختیا لپاره د کافي بودیجې نشتوالی؛
۴ .د علمي څېړنو د ترسره کولو، کاپي رایټ او خپرولو لپاره د واحد الکترونیکي سیستم نشتوالی؛
۵ .د پوهنځي د تدریسي او اداري ودانیو د جوړولو لپاره د ځانګړې بودیجې نشتوالی؛
٦ .په پوهنځي کې د کتابتون د پراختیا لپاره د مشخصې بودیجې نشتوالی؛
۷ .د پراختیایي پروګرامونو کمښت، چې علمي کادر پکې ګډون وکړي؛
۸.ټولنې ته د علمي او فرهنګي پروګرامونو د معلوماتو رسولو لپاره د رسنیو نه همغږي؛
۹ .د بهرنیو بنسټونو لخوا د تحصیلي مرکزونو کم ملاتړ؛
۱۰ .د نویو شامل شویو محصلینو د عمومي پوهې ټیټه کچه؛
۱۱ .په دولتي ادارو کې د غیر مسلکي او غیر تخصصي کسانو د ګمارنې زیاتوالی؛
۱۲ .په ټولنه او اړوندو بنسټونو کې د څېړنې د فرهنګ نشتوالی؛
۱۳ .په پوهنځي کې د اداري او تدریسي امکاناتو د برابرولو لپاره د مالي خپلواکۍ نشتوالی.

## خارجي چاپېريال ته په کتو سره د پوهنځي د موقعيت تحليل او تاکل

(۸) جدول: د پوهنځي د خارجي عواملو تحليل (EFEM)

سرچینه: د پوهنځي د ستراتيژيک پلان کمېټې موندنې

| خارجي عوامل | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **1- فرصتونه** | | | | |
| گڼه | مهم فکتورونه | ضريب | رتبه | آخرنی نمره |
| 1 | د علمي کادر لپاره د ظرفيت لوړولو د زمينې شتون؛ | 0.042 | 2.600 | 0.109 |
| 2 | له تحصيلي بنسټونو څخه د اسلامي امارت ملاتړ؛ | 0.041 | 3.250 | 0.133 |
| 3 | د انټرنېټ د پياوړتيا لپاره د ولايت په کچه د نوري فايبر شتون؛ | 0.039 | 2.680 | 0.105 |
| 4 | د پوهنتون په کچه د کمپيوټر لب شتون؛ | 0.039 | 2.680 | 0.105 |
| 5 | د علمي څېړنو د خپرولو لپاره د پوهنتون په کچه د ځانګړي علمي مجلې شتون؛ | 0.040 | 2.810 | 0.112 |
| 6 | د ټولنې د ستونزو د حل لپاره د پاليسۍ جوړولو د څېړنو څخه د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه ملاتړ؛ | 0.039 | 2.660 | 0.104 |
| 7 | د دې پوهنځي د هوکړه ليکونو د زياتولو لپاره د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه همکاري؛ | 0.042 | 2.880 | 0.120 |
| 8 | د اړيکو او معلوماتي زيربناوو او امکاناتو پراختيا ته د لوړو زده کړو وزارت پاملرنه؛ | 0.042 | 2.700 | 0.113 |
| 9 | د دې رشتې د فارغانو لپاره د کار موندلو د زمينې شتون؛ | 0.042 | 2.380 | 0.100 |
| 10 | د ځينو ملي او نړيوالو مؤسسو د څېړنيزو پروژو طرحې او تمويل ته ليوالتيا؛ | 0.039 | 2.320 | 0.090 |
| 11 | د روزنيزو سيستمونو څېړنيز کولو ته د لوړو زده کړو وزارت پاملرنه؛ | 0.039 | 2.730 | 0.106 |
| 12 | د هېواد د اداري سيستم د ښه کولو او عصري کولو اړتيا؛ | 0.043 | 3.000 | 0.129 |
| 13 | پوهنځي ته د شاملېدو لپاره د خلکو ډېره تقاضا او ليوالتيا. | 0.039 | 2.909 | 0.113 |
| **2- ګواښونه** | | | | |
| 1 | د علمي کادر غړو لپاره د بهرنيو بورسونو نشتوالی؛ | 0.042 | 2.120 | 0.089 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 2 | د علمي کادر د غړو د علمي ترفیعاتو ترمنځ د وخت د فاصلې زیاتوالی؛ | 0.042 | 2.270 | 0.095 |
| 3 | د تکنالوژیکي پروسو د پراختیا لپاره د کافي بودیجې نشتوالی؛ | 0.010 | 2.200 | 0.022 |
| 4 | د علمي څېړنو د ترسره کولو، کاپي رایټ او خپرولو لپاره د واحد بربنښنایي سیستم نشتوالی؛ | 0.043 | 2.100 | 0.090 |
| 5 | د پوهنځي د تدریسي او اداري ودانیو د جوړولو لپاره د ځانګړې بودیجې نشتوالی؛ | 0.043 | 2.160 | 0.093 |
| 6 | د پوهنځي په کچه د کتابتون د پراختیا لپاره د مشخصې بودیجې نشتوالی؛ | 0.042 | 2.090 | 0.088 |
| 7 | د علمي کادر د غړو د ګډون لپاره د پراختیایي پروګرامونو کموالی؛ | 0.035 | 2.220 | 0.077 |
| 8 | ټولنې ته د علمي او فرهنګي پروګرامونو د خبرولو لپاره د رسنیو د همغږی نشتوالی؛ | 0.037 | 2.130 | 0.079 |
| 9 | د تحصیلي مرکزونو څخه د بهرنیو بنسټونو لږ ملاتړ؛ | 0.038 | 2.140 | 0.081 |
| 10 | د نویو شامل شویو محصلینو د عمومي پوهې د کچې ټیټوالی؛ | 0.032 | 2.060 | 0.066 |
| 11 | په دولتي ادارو کې د غیر مسلکي او غیر تخصصي استخدام زیاتوالی؛ | 0.036 | 2.080 | 0.075 |
| 12 | په ټولنه او اړوندو بنسټونو کې د څېړنې د کلتور نشتوالی؛ | 0.035 | 2.190 | 0.077 |
| 13 | د پوهنځي په کچه د اداري او روزنیزو امکاناتو د برابرولو لپاره د مالي خپلواکۍ نشتوالی. | 0.040 | 2.220 | 0.089 |
| | د ضریبونو مجموعه او آخرینی نمره | 1 | | 2.460 |

د بهرنیو عواملو د تحلیل لپاره، لومړی د هر فرصت او ګواښ معیار لپاره د ویشل شویو پوښتنپاڼو پر بنسټ، د نسبي فریکونسی پر اساس یو ضریب ټاکل شوی دی. په دې ډول چې د کم لپاره ۱، د متوسط لپاره ۲، د زیات لپاره ۳، او د ډیر زیات لپاره ۴ نمرې په پام کې نیول شوي دي. د هر معیار نمرې په پوښتنپاڼو کې سره جمع شوي او د ضریب د ټاکلو لپاره لاندې فورمول کارول شوی دی:

$$C = \frac{P_{x_i}}{\sum P_{x_i}} \rightarrow \text{د هر معیارضریب} = \frac{\text{دهر معیار مجموعي نمره (له ټولو پوښتنپاڼو)}}{\text{دخارجي عواملو معیارونو مجموعي نمره (فرصتونه و ګواښونه)}}$$

**په دې فورمول کې:**

C = د هر معيار ضريب

$P_{xi}$ = د ټولو پوښتنليکونو د هر معيار مجموعی امتيازونه

$\sum P_{xi}$ = د داخلي عواملو د معيارونو د امتيازونو مجموعه/ټولگه

د بهرنيو عواملو د هر معيار لپاره درجه بندي په دې ډول ده، چې د هر معيار د لومړيتوب او اهميت پر بنسټ، له ۱ څخه تر ۴ پورې درجه ټاکل شوې ده. د معيارونو لپاره لومړيتوبونه د هغوی د اهميت درجې ته په پام سره په دې ډول دي، چې د فرصتونو لپاره ۴ مه درجه د فوق العاده فرصت په معنی او ۳ مه درجه د عادي فرصت په معنی گڼل کيږي او همدارنگه د گواښونو لپاره ۲ مه درجه د معمولي گواښ په معنی او ۱ درجه د شديد گواښ په معنی گڼل کيږي.

## د چاپېريالي عواملو (داخلي او بهرني) پرتله کول

په پای کې د داخلي عواملو لپاره د وروستۍ نمرې ټاکلو او په گراف کې د پوهنځي  د موقيعت ټاکلو لپاره د ستراتيژۍ ډول، د هر معيار ضريب د هغه معيار په درجه  کی ضرب کوو.

**د هر معيار نهايي نمره= د هر معيار ضريب × دهر معيار رتبه**

د وروستۍ نمرې تحليل په دې ډول دی، چې د ۱ څخه تر ۴ پورې درجې، چې د داخلي او بهرني عواملو لپاره په پام کې نيول شوې لومړی يې اوسط اخيستل کيږي. که د داخلي عواملو د وروستۍ نمرې مجموعه د رتبو له اوسط څخه زياته وي، دا په دې معنی ده، چې د پوهنځي قوتونه د هغې له ضعفونو څخه زيات او قوي دي او که وروستۍ نمره د رتبو له اوسط څخه کمه وي دا په دې معنی ده، چې د پوهنځي ضعفونه پر قوتونو غالب دي. همدارنگه د بهرني عواملو لپاره که د وروستۍ نمرې مجموعه له ۲.۵ څخه زياته وي دا په دې معنی ده، چې د پوهنځي  په بهرني چاپېريال کې موجود فرصتونه د پوهنځي په چاپېريال کې له موجوده گواښونو څخه زيات دي.

2.5 = 4/ 10 = د داخلی عواملو لپاره د رتبو اوسط

2.5 = 4/ 10= د بهرنيو عواملو لپاره د رتبو اوسط

لکه څنگه چې د داخلي عواملو د تحليل په جدول کې ترلاسه شوي د عامه ادارې او پاليسی پوهنځي لپاره د داخلي عواملو وروستۍ نمره ۲.۷۱۳۶۱ ده، چې د درجو له اوسط څخه زياته ده. دا په دې معنی د، چې د پوهنځي قوتونه پر ضعفونو غالب دي. همدارنگه د بهرنيو عواملو د تحليل جدول ته په کتو سره، چې د بهرنيو عواملو وروستۍ نمره ۲.۴۶۰ ده، د بهرنيو عواملو د درجو له اوسط څخه کمه ده. په بل عبارت دا ښيي، چې د پوهنځي په بهرني چاپېريال کې موجود گواښونه پر فرصتونو غالب دي.

## د IE میتود

داخلي او بهرني عوامل په یو وخت کې د تحلیل لپاره د داخلي او بهرني ماتریکس وسیلې په نوم کارول کیږي. په پوهنځي کې د ستراتیژۍ ډول د ټاکلو لپاره، د داخلي او بهرنیو عواملو وروستی نمرې په لاندې شکل کې رسم شوي او د ستراتیژۍ ډول مشخص شوی دی.




(۱) شکل: دپوهنځي موقعیت تعیینول د ستراتیژۍ دنوعیت له لحاظ

سرچینه: د سوات تحلیل موندنې

د لومړی شمیرې ګراف پر بنسټ داسې استنباط کېږي، چې د پوهنځي د ضعف ټکې پر قوت ټکو او د ګواښونو پر فرصتونو د غالبېدو له امله، د عامه اداري او پالیسی پوهنځي خپلې استراتیژۍ د رقابتی/ سیالی (ST) استراتیژیو د غوره کولو لپاره زمینه مساعده ده. له همدې امله د لاندې برخو لپاره د پوهنځي د ټاکل شویو موخو د ترلاسه کولو په موخه وړاندې کوي. دا موضوع په لاندې جدول کې په ښه ډول څرګنده شوې ده.




(۲)شکل: د پوهنځي لپاره استراتيژيک موقعيت ټاکلو ماتريکس

د داخلي او خارجي عواملو ماټريکس د نمرو په پام کې نيولو سره که چيرې د تحصيلي بنسټونو موقعيت په II، III، VI خونو کې وي، دا د دې تحصيلي بنسټ لپاره د ودې او پراختيا ستراتيژيو غوره کول ښيي. او که چيرې په I، V، IX خونو کې وي، دا د ساتنې او ثبات ستراتيژيو غوره کول ښيي. او همدارنګه، که چيرې په IV، VII، IIX خونو کې وي د دفاعي او کمښت ستراتيژيو غوره کول ښيي.

پورته متن ته په پام سره د عامه اداري او پالیسي پوهنځي د بهرني چاپيريال عواملو تحليل شمېره (۲.۴۶) او د داخلي چاپيريال عواملو تحليل شمېره (۲.۷۱) ده. په پای کې، مورږ دې نتيجې ته رسيږو، چې پوهنځی په V خونه کې دی، کوم چې ښيي چې د پوهنځي ستراتيژي د (ساتنې او ثبات) ستراتيژي ده.

## د SWOT ميتود

دا ماټريکس يو له هغو مهمو وسيلو څخه دی، چې مديران يې په مرسته معلومات پرتله کوي او کولی شي د هغې په کارولو سره څلور ډوله ستراتيژۍ وټاکي. په دې ميټريکس کې ټول عوامل (داخلي او خارجي) سره پرتله کيږي او په پايله کې د سازمان لپاره شته ستراتيژۍ څرګنديږي. دغه څلور ډوله ستراتيژۍ، د عامه اداري او پالیسي پوهنځي کې د داخلي او خارجي عواملو پر بنسټ، چې په لومړي شکل کې راټول شوي دي، تحليل او تجزيه شوي او مشخص شوي دي. لکه څنګه چې ليدل کيږي، د عامه اداري او پالیسي پوهنځۍ د داخلي عواملو په برخه کې دوه برخې شتون لري: ځواکمنتياوې او کمزورتياوې، چې د دې پوهنځي داخلي ځواک او کمزوري څرګندوي. لکه څنګه، چې په (۱) شکل کې ليدل کيږي، ټول بهرني عوامل (فرصتونه او ګواښونه) او داخلي عوامل (ځواکونه او ضعفونه) د عامه اداري او پالیسي

پوهنځي سره راټول شوي او د دې عواملو ټولیز انځور وړاندې کیدی شي ترڅو بهرنی نړۍ سره اشنا شي او د پوهنځي داخلي وضعیت تحلیل کړي. د دې عواملو او اړوندو فکتورونو منطقي تحلیل کولی شي د پوهنځي فعالیتونو لپاره مشخصه لار رامینځته کړي او کارمندانو، استادانو او رهبري پلاوي ته دا فرصت ورکړي، چې د پوهنځي ستراتیژیکو اهدافو ته د رسیدو لپاره له ټولو فزیکي، ذهني او ټیکنالوژیکي ځواک څخه ښه ګټه پورته کړي. د داخلي او بهرني چاپیریال اړوند فکتورونو تحلیل د کارمندانو او استادانو د نظریاتو پر بنسټ ترتیب او درجه بندي شوي دي، چې په راتلونکې برخه کې د دوی درجه بندي ته کتنه کیږي.

(۹)جدول: د داخلی فکتورونو د لومړیتوب ټاکلو ماټریکس

| د اهمیت کچه | پرتله | د پوهنځی د رقابتی وړتیا پر اساس دفعالیت اغیزه | | |
|---|---|---|---|---|
| | | ډیر | متوسط | لږ |
| | ډیر | لوړ اولویت | لوړ اولویت | متوسط اولویت |
| | متوسط | لوړ اولویت | متوسط اولویت | کښته اولویت |
| | لږ | متوسط اولویت | کښته اولویت | کښته اولویت |

(۱۰)جدول: د بهرنی فکتورونو دلومړیتوب ټاکلو ماټریکس

| د واقع کیدو احتمال | حالت | دپوهنځی پر فعالیت احتمالی اغیزه | | |
|---|---|---|---|---|
| | | ډیر | متوسط | لږ |
| | ډیر | لوړ اولویت | لوړ اولویت | متوسط اولویت |
| | متوسط | لوړ اولویت | متوسط اولویت | کښته اولویت |
| | لږ | متوسط اولویت | کښته اولویت | کښته اولویت |

(۱۱)جدول: د پوهنځي دستراتژیو د طرحی لپاره د SWOT تحلیل میټریکس

| داخلی عوامل | **د قوت ټکی (S)** | **د ضعف ټکی (W)** |
|---|---|---|
| | ✓ د ځوان او متخصص علمي کادر غړو درلودل؛<br>✓ د اداري او تدریسي چارو د پرمخ وړلو لپاره د کاري انګیزې درلودل؛ | ✓ د علمي کادر د لارښوونې لپاره د لوړ رتبه استادانو (پوهندوی، پوهنوال او پوهاند) نشتوالی؛ |

| | | |
|---|---|---|
| بهرني عوامل | ✓ په تدريسي او اداري چارو کې د عصري ټکنالوژۍ کارول؛<br>✓ د څېړنو لپاره د تحليلي او احصايوي پروګرامونو سره د دې پوهنځي د علمي کادر غړو آشنايي؛<br>✓ په دې پوهنځي کې د عصري اداري او تدريسي وسايلو شتون؛<br>✓ د اداري او تدريسي زيربناوو د جوړولو لپاره د کافي ځمکې درلودل؛<br>✓ د علمي کادر د غړو لخوا د څېړنو د ترسره کولو لپاره د کافي انګېزې شتون؛<br>✓ د ليسانس په کچه د علمي، مسلکي او متخصص کادر روزنه او ټولنې ته وړاندې کول؛<br>✓ د ټولنې د ستونزو د حل لپاره د پاليسي جوړولو څېړنې ترسره کول؛<br>✓ په فرهنګي، ټولنيزو او ملي برخو کې د ټولنې په پراختيايي پروګرامونو کې د علمي کادر غړو ګډون؛ | ✓ د پوهنځي په کچه د ځانګړي کمپيوټر لب نشتوالی؛<br>✓ د پوهنځي په کچه د انټرنېټ ضعيفوالی؛<br>✓ د پوهنځي لپاره د اداري او تدريسي ودانۍ نشتوالی؛<br>✓ د پوهنځي لپاره د ځانګړي کنفرانس تالار نه درلودل؛<br>✓ د پوهنځي لپاره د ځانګړي کتابتون نشتوالی؛<br>✓ د څېړنو لپاره د مناسبو وسايلو نه درلودل (بريښنايي کتابتون او نور)؛<br>✓ د پوهنځي په کچه د خبري بولټن نشتوالی؛<br>✓ له مالي هوکړه ليکونو څخه لږ ګټه اخيستل؛<br>✓ د پوهنځي د کادري او اداري غړو د مسلکي کولو لپاره د روزنيزو پروګرامونو نشتوالی؛ |

| | | |
|---|---|---|
| | ✓ د داخلي او بهرنيو بنسټونو سره د مالي او علمي همکاريو د ترلاسه کولو لپاره د هوکړه ليکونو زياتول؛<br>✓ په اداري او اجراييوي چارو کې سالم، اغېزمن او وړ مديريت؛<br>✓ د عامه اداري او پاليسۍ د پوهنځي بين الرشتوي والى. | ✓ د پوهنځي په کچه د برېښنايي کتابتون نشتوالى؛<br>✓ د پوهنځي د اړتيا سره سم د تشکيلاتو کموالى؛<br>✓ په ملي ژبو کې د تازه درسي سرچينو نشتوالى. |
| ✓ فرصتونه (O)<br>د علمي کادر غړو لپاره د ظرفيت لوړولو د زميني شتون؛<br>✓ له تحصيلي بنسټونو څخه د اسلامي امارت ملاتړ؛<br>✓ د انټرنېټ د پياوړتيا لپاره د ولايت په کچه د نوري فايبر شتون؛<br>✓ د پوهنتون په کچه د کمپيوټر لب شتون؛<br>✓ د علمي څېړنو د خپرولو لپاره د پوهنتون په کچه د ځانګړي علمي مجلې شتون؛<br>✓ د ټولني د ستونزو د حل لپاره د پاليسۍ جوړولو د څېړنو څخه | **(SO) استراتيژياني**<br>- د کمپيوټري سيستم رامنځته کول او د مديريت سيستم پياوړتيا (S1,2,3,4,5,6,8,9,11,12,O1,2,3,6,7,8,10,12)؛<br>- په ټولنه کې د څېړنې او مطالعې فرهنګ نهادينه کول S1,3,4,5,7,8,9,10,11,13,O1,2,3,5,6,7,8,10,11,12)؛<br>- د موجوده سرچينو اعظمي استفادې سره د پوهنتون د زېربناوو پراختيا.<br>S1,2,5,6,7,8,9,10,11,O2,3,6,7,8,10,11)؛<br><br>د هېواد په جنوبي او لوېديځو سيمو کې د عامه اداری او پاليسۍ پوهنځي استادانو له خوا، له نورو | **(WO) استراتيژياني**<br>- په پوهنځي کې د علمي څېړنو لپاره د بوديجې زياتولو په برخه کې د افغانستان اسلامي امارت څخه د هر اړخيز ملاتړ جلبول.<br>W1,2,3,4,5,6,7,8,9,10,11,12,13,O1,2,3,5,6,7,8,10,11)؛<br>- د کورنيو او بهرنيو تحصيلي بورسونو په کارولو سره د استادانو د تحصيلي کچې لوړول<br>- (W1,9,10,12,O1,2,7)؛<br>- د پوهنځي د کادري او اداري غړو کمي او کيفي ظرفيت لوړول<br>W1,3,5,6,7,8,9,10,11,12,O1,2,3,4,5,6,7,8,10,11,12)<br>- د کتابتون، ټولګيو او د پوهنځي د اداري ځانګو جوړول او سمبالول<br><br>(W2,3,4,5,6,7,8,9,10,11,12,13,O2,3,4,8)؛ |

| | | |
|---|---|---|
| د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه ملاتړ؛<br>✓ د دې پوهنځي د توامیتونو د زیاتولو لپاره د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه همکاري؛<br>✓ د اړیکو او معلوماتي زیربناوو او امکاناتو پراختیا ته د لوړو زده کړو وزارت پاملرنه؛<br>✓ د دې رشتې د فارغانو لپاره د کار موندلو د زمینې شتون؛<br>✓ د ځینو ملي او نړیوالو مؤسسو د څېړنیزو پروژو طرحې او تمویل ته لېوالتیا؛<br>✓ د روزنیزو سیستمونو څېړنیز کولو ته د لوړو زده کړو وزارت پاملرنه؛<br>✓ د هېواد د اداري سیستم د ښه کولو او عصري کولو اړتیا؛<br>✓ پوهنځي ته د شاملېدو لپاره د خلکو ډېره تقاضا او لېوالتیا. | تحصیلي بنسټونو سره د علمي څېړنو ترسره کول او د تجربو شریکول.<br>(S1,3,4,7,9,10,11,O1,2,3,5,6,7,8,10,11)؛<br>- د کیفیت د لوړولو فعالیتونو ته په پام سره، د اکاډمیک اعتبارنامې ترلاسه کولو لپاره له بنسټ سره همکاري. (S1,2,3,4,5,6,7,9,10,11,12,O1,2,3,4,5,6,7,8,10,11,12,13).<br>- له کورنیو او بهرنیو تحصیلي او غیر تحصیلي بنسټونو سره د تفاهم لیکونو او تړونونو لاسلیک کول (S1,2,3,4,5,6,7,8,9,10,11,13,O1,2,5,6,7,8,9,10,11,12)؛<br>- د پالیسی جوړونې په موخه څېړنې ترسره کول، د هغې څخه د عاید ترلاسه کول او په لویو څېړنیزو پروژو کې یې لګول.<br>- (S1,4,7,9,11,13,O1,2,3,5,6,7,8,10,11,12)؛<br>- د شته زیاتو سرچینو او د اداري د پراخې ځمکې په کارولو سره، د معلوماتي ټکنالوژۍ د بنسټیزې پراختیا لپاره د لوړو زده کړو وزارت پام را اړول. (S1,2,3,4,5,6,8,11,12,13,O2,3,4,5,6,7,8,11,12)؛ | |

| | | |
|---|---|---|
| | - په هرسمستر کې د علمي کادر غړو لخوا، لږ تر لږه د هر استاد له خوا د یوې علمي-څېړنیزې مقالې پر لیکلو او خپرولو ټینګار<br>.<br>(S1,2,3,4,5,7,9,10,11,13,O1,2,3,5,6,7 ,8,10,11,12)؛ | |
| ✓ ګواښونه (T)<br>✓ د علمي کادر لپاره د بهرنیو بورسونو نشتوالی؛<br>✓ د علمي کادر د غړو د علمي ترفیعاتو ترمنځ د وخت د فاصلې زیاتوالی؛<br>✓ د تکنالوژیکي پروسو د پراختیا لپاره د کافي بودیجې نشتوالی؛<br>✓ د علمي څېړنو د ترسره کولو، کاپي رایټ او خپرولو لپاره د واحد برېښنایي سیستم نشتوالی؛<br>✓ د پوهنځي د تدریسي او اداري ودانیو د جوړولو لپاره د ځانګړې بودیجې نشتوالی؛<br>✓ د پوهنځي په کچه د کتابتون د پراختیا لپاره | **ST استراتیژیانې**<br>- د کورنیو بورسونو د لګښتونو د کمولو لپاره استادان بهرنیو بورسونو ته لېږل (S1,11,T1,2,7,9)؛<br>- د اداري قوانینو او مقرراتو تطبیق کې د بروکراسی منفی اړخونو په له منځه وړل. (S1,2,3,4,5,8,9,10,11,12,13,T3,4,7, 8,11,13)؛<br>- "د ځوان، متخصص او مسلکي کادر تربیه او وده په هدف د دی چې د ټولنې د کار ځواک د عرضه او تقاضا تر منځ توازن رامنځته کول".<br>- (S1-13,T1-13)؛<br>- دمتخصصو او مهارت لرونکو کادرونو روزنه ، پر غیر مسلکی ګمارنی غلبه. (S1,2,3,4,5,8,9,10,11,12,13,T1,3,4, T6,7,9,10,11,12,13)؛<br>- دمطالعاتي او څېړنیزې وړتیاوو ځخه مؤثره استفاده او استادانو او محصلانو ته څېړنیز کنفرانسونه وړاندی کول. (S1,2,4,7,,8,9,10,11,12,13,T3,4,6,7 ,8,9,10,11,12,13)؛ | **WT استراتیژیانې**<br>- دعامه پوهاوی لپاره د بولټن خبری فعالول. W3,7,8,9,10,12,T3,4,8,9,10,11,12,13 ؛)<br>- د پوهنځی داستادانو او کارمندانو اړیکی له دټولنی دافرادو سره قوی کول تر څو امن او اکاډمیک فضا رامنځته شي. (W5,6,7,8,9,10,11,T2,4,7,8,9,10, 11,12,13)؛<br>- د درسی نصاب بیا کتنه او دبازار کار له اړتیاوو سره سمبالول. (W1,6,10,11,13,T6,10,12,13)؛ |

| | | |
|---|---|---|
| د مشخصې بودیجې نشتوالی؛<br>✓ د علمي کادر د غړو د ګډون لپاره د پراختیایي پروګرامونو کموالی؛<br>✓ ټولنې ته د علمي او فرهنګي پروګرامونو د خبرولو لپاره د رسنیو د همغږی نشتوالی؛<br>✓ د تحصیلي مرکزونو څخه د بهرنیو بنسټونو لرې ملاتړ؛<br>✓ د نویو شامل شویو محصلینو د عمومي پوهې د کچې ټیټوالی؛<br>✓ په دولتي ادارو کې د غیر مسلکي او غیر تخصصي استخدام زیاتوالی؛<br>✓ په ټولنه او اړوندو بنسټونو کې د څېړنې د کلتور نشتوالی؛<br>✓ د پوهنځي په کچه د اداري او روزنیزو امکاناتو د برابرولو لپاره د مالي خپلواکۍ نشتوالی. | - ددی پوهنځی محصلانو او فارغانو ته دکار بازار د اړتیاوو سره سم دبازار موندنی دمهارتونو د لوړولو لپاره دسوداګریې مشوری وړاندی کول. (S1,2,3,4,5,6,7,8,9,10,12,13,T3,6,7,8,9,10,11)؛ | |

سرچینه: دپوهنځی استراتژیک پلان کمیته

## د ستراتیژیک موقعیت ټاکل

په فراه د لوړو زده کړو مؤسسه   کې د عامه اداري او پالیسی پوهنځي ستراتیژیک موقعیت، د ستراتیژیک حالت په ماټریکس کې د رقابتي ستراتیژیو په برخه کې ځای لري. دا پوهنځی د رقابتي ستراتیژیو په پلي کولو کې هڅه کوي، چې د خپلو ځواکمنو نقطو په کارولو سره د بهرني چاپېریال له ګواښونو راولاړېدونکي اغیزې کمې یا له منځه یوسي.



(۳) شکل: د پوهنځي ستراتیژیک موقعیت ټاکل

## د عامه اداري او پالیسۍ پوهنځي د ستراتیژیو ټاکل

د پوهنځي د داخلي او خارجي عواملو له تحلیل وروسته لاندې عمومي ستراتیژی د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه  د عامه اداري او پالیسۍ پوهنځي لپاره طرح شوي دي:

**بنسټیز تاسیسات او تجهیزات**

۱ .د پوهنځي د بنسټیزو تاسیساتو پراختیا (اداري او تدریسي ودانۍ، کتابتون او کمپیوټر لب)؛

۲ .د ټولو ټولګیو او اداري څانګو تجهیز او پیاوړتیا؛

**مالي او اداري برخه**

1. د عوایدو د ترلاسه کولو او د هغو د لګښت لپاره د پالیسۍ سازو څېړنو ترسره کول، ترڅو دا عواید په سترو تحقیقي پروژو کې وکارول شي؛
2. له سازمان سره د مالي بودجې د زیاتوالي او مالي مرستو د جذب په برخه کې همکارۍ کول؛

### د بشري منابعو پراختیا

1. داخلي او بهرنیو تحصیلي بورسونو ته د استادانو او کارکوونکو معرفي کول او استول؛
2. د متخصصو افرادو جذب او د لنډ مهاله برنامو له لارې د استادانو او کارکوونکو د ظرفیت لوړونه ؛
3. د ټولنې د اړتیاوو مطابق د نوو څانګو رامنځته کول، ترڅو د کادري غړو شمېر زیات شي.

### تحصیلاتو ته لاسرسي او د ټولنې اړتیاوې

1. د ځوانو، متخصصو فارغ التحصیلانو روزنه او وده، او د ټولنې د کاري ځواک د عرضې او تقاضا ترمنځ توازن رامنځته کول؛
2. د درسي نصاب (مضامینو یا درسي مفرداتو) بیا کتنه او پراختیا او د کار بازار د اړتیاو مطابق کول؛
3. د ټولنې د اړتیاو سره سم د نویو څانګو رامنځته کول، ترڅو د محصلانو جذب زیات شي او د مختلفو څانګو متخصصین وروزل شي.

### د ادارې آسانتیاوو پراختیا

1. له سازمان سره د کمپیوټري سیستم په جوړولو او د مدیریتي سیستم په پیاوړتیا کې همکاري کول؛
2. د اداري بروکراسۍ د کمولو لپاره د HEMIS او HELMS سیستمونو ښه تطبیق.

### علمي او څېړنیزه برخه

1. د کیفیت د لوړولو پر چارو جدي تمرکز او له سازمان سره د اکاډمیک اعتبارنامې په ترلاسه کولو کې همکاري کول؛
2. د مطالعې او څېړنې د بالقوه وړتیاوو څخه اغېزمنه ګټه اخیستل، استادانو او محصلینو ته د څېړنیزو کنفرانسونو وړاندې کول ترڅو په ټولنه کې د مطالعې او څېړنې کلتور پراخ شي؛
3. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه سره په همغږۍ له تحصیلي او غیر تحصیلي بنسټونو سره د ملګرتیا او تفاهم لیکونو لاسلیک کول؛
4. د عامه پوهاوي لپاره د خبري بولټن فعالول؛
5. د هېواد په سویل او لوېدیځو حوزو کې له نورو تحصیلي بنسټونو سره د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځي د استادانو لخوا د تجربو تبادله او علمي څېړنې ترسره کول.

**نبه حکومتولي**

1. د فساد سره مبارزه؛
2. د لوړو زده کړو وزارت د قوانينو او طرزالعملونو تطبيق؛
3. د مکافاتو او مجازاتو د اصل تطبيق، همغږي او اړيکې.

## د کمي ستراتيژيک پلان جوړوني ميټريکس (QSPM) پر بنسټ د ستراتيژيو د لومړيتوبونو ټاکل

د کمي ستراتيژيک پلان جوړوني د تحليل ماټريکس (QSPM) پر بنسټ د ستراتيژيو له ټاکلو او غوره کولو وروسته اوس ستراتيژۍ د لا اغيزمنتيا لپاره لومړيتوب بندي کيږي او د ستراتيژيک لومړيتوب ټاکل د لوړو زده کړو بنسټونو سره مرسته کوي ترڅو تشخيص کړي، چې کومه ستراتيژي او همدارنګه برنامې د تحصيلي بنسټ د وړتياو د کچې پر بنسټ د لومړي کال لپاره او په همدې ډول دوهم، دريم، څلورم او په پای کې پنځم کلونو لپاره تطبيق شي.

## د QSPM ميټريکس پر بنسټ د ستراتيژيکو لومړيتوبونو ټاکل

په دې برخه کې ستراتيژۍ ته د هغو نمرو پر بنسټ لومړيتوب ورکول کيږي، چې دوی ترلاسه کړي، ترڅو تحصيلي سازمان او د هغې دويمي واحدونه د دوی د اهميت درجې ته په کتو اقدام وکړي او مشخصې پاليسۍ پلي کړي.

(۱۲) جدول: د ستراتيژيکو لومړيتوبونو ټاکل

| شميره | د قوت ټکي | 1 استراتيژی | | | 2 استراتيژی | | | 3 استراتيژی | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ضريب | جذابيت | نمره | ضريب | جذابيت | نمره | ضريب | جذابيت | نمره |
| 1 | د ځوان او متخصص علمي کادر درلودل؛ | 0.037 | 4 | 0.148 | 0.037 | 4 | 0.148 | 0.037 | 3 | 0.111 |
| 2 | د اداري او تدريسي چارو د پرمخ وړلو لپاره د کاري انګيزې درلودل؛ | 0.039 | 4 | 0.156 | 0.039 | 0 | 0 | 0.039 | 3 | 0.117 |
| 3 | په تدريسي او اداري چارو کې د عصري ټکنالوژۍ کارول؛ | 0.0395 | 4 | 0.158 | 0.0395 | 3 | 0.1185 | 0.0395 | 1 | 0.0395 |
| 4 | د څېړنو لپاره د تحليلي او احصايوي پروګرامونو سره د دې پوهنځي د علمي کادر اشنايي؛ | 0.04 | 3 | 0.12 | 0.04 | 4 | 0.16 | 0.04 | 1 | 0.04 |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | په دې پوهنځي کې د عصري اداري او تدريسي وسايلو شتون؛ | 0.04 | 4 | 0.16 | 0.04 | 4 | 0.16 | 0.04 | 4 | 0.16 |
| 6 | د اداري او تدريسي زيربناوو د جوړولو لپاره د کافي ځمکې درلودل؛ | 0.042 | 4 | 0.168 | 0.042 | 0 | 0 | 0.042 | 4 | 0.168 |
| 7 | د علمي کادر د غړو لخوا د څېړنو د ترسره کولو لپاره د کافي انګېزې شتون؛ | 0.04 | 0 | 0 | 0.04 | 4 | 0.16 | 0.04 | 3 | 0.12 |
| 8 | د ليسانس په کچه د علمي، مسلکي او متخصص کادر روزنه او ټولنې ته وړاندې کول؛ | 0.039 | 4 | 0.156 | 0.039 | 3 | 0.117 | 0.039 | 3 | 0.117 |
| 9 | د ټولنې د ستونزو د حل لپاره د پاليسی جوړولو څېړنې ترسره کول؛ | 0.035 | 3 | 0.105 | 0.035 | 4 | 0.14 | 0.035 | 4 | 0.14 |
| 10 | په فرهنګي، ټولنيزو او ملي برخو کې د ټولنې په پراختيايي پروګرامونو کې د علمي کادر د غړو ګډون؛ | 0.03 | 0 | 0 | 0.03 | 4 | 0.12 | 0.03 | 3 | 0.09 |
| 11 | د داخلي او بهرنيو بنسټونو سره د مالي او علمي همکاريو د ترلاسه کولو لپاره د تواميتونو زياتول؛ | 0.038 | 4 | 0.152 | 0.038 | 3 | 0.114 | 0.038 | 3 | 0.114 |
| 12 | په اداري او اجرايوي چارو کې سالم، اغېزمن او وړ مديريت؛ | 0.032 | 4 | 0.128 | 0.032 | 0 | 0 | 0.032 | 0 | 0 |
| 13 | د عامه اداري او پاليسی د پوهنځي بين الرشتوي والی. | 0.04 | 0 | 0 | 0.04 | 3 | 0.12 | 0.04 | 0 | 0 |

| شميره | د ضعف ټکي | ضريب | جذابيت | نمره | ضريب | جذابيت | نمره | ضريب | جذابيت | نمره |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | علمي کادر غړو د لاربووني لپاره د لوړ رتبه استادانو (پوهندوی، پوهنوال او پوهاند) نشتوالی؛ | 0.04 | 0 | 0 | 0.04 | 0 | 0 | 0.04 | 0 | 0 |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 0 | 0 | 0.04 | 0 | 0 | 0.04 | 0 | 0 | 0.04 | د پوهنځي په کچه د ځانګړي کمپیوټر لب نشتوالی؛ | 2 |
| 0 | 0 | 0.04 | 0 | 0 | 0.04 | 0 | 0 | 0.04 | د پوهنځي په کچه د انټرنېټ ضعیفوالی؛ | 3 |
| 0 | 0 | 0.041 | 0 | 0 | 0.041 | 0 | 0 | 0.041 | د پوهنځي لپاره د اداري او تدریسي ودانۍ نشتوالی؛ | 4 |
| 0 | 0 | 0.04 | 0 | 0 | 0.04 | 0 | 0 | 0.04 | د پوهنځي لپاره د ځانګړي کنفرانس تالار نه درلودل؛ | 5 |
| 0 | 0 | 0.04 | 0 | 0 | 0.04 | 0 | 0 | 0.04 | د پوهنځي لپاره د ځانګړي کتابتون نشتوالی؛ | 6 |
| 0 | 0 | 0.035 | 0 | 0 | 0.035 | 0 | 0 | 0.035 | د څېړنو لپاره د مناسبو وسایلو نه درلودل (بریښنایي کتابتون او نور)؛ | 7 |
| 0 | 0 | 0.039 | 0 | 0 | 0.039 | 0 | 0 | 0.039 | د پوهنځي په کچه د خبري بولټن نشتوالی؛ | 8 |
| 0 | 0 | 0.038 | 0 | 0 | 0.038 | 0 | 0 | 0.038 | له مالي توامیتونو څخه لږ ګټه اخیستل؛ | 9 |
| 0 | 0 | 0.035 | 0 | 0 | 0.035 | 0 | 0 | 0.035 | د پوهنځي د کادري او اداري غړو د مسلکي کولو لپاره د روزنیزو پروګرامونو نشتوالی؛ | 10 |
| 0 | 0 | 0.0385 | 0 | 0 | 0.0385 | 0 | 0 | 0.0385 | د پوهنځي په کچه د بریښنایي کتابتون نشتوالی؛ | 11 |
| 0 | 0 | 0.04 | 0 | 0 | 0.04 | 0 | 0 | 0.04 | د پوهنځي د اړتیا سره سم د تشکیلاتو کموالی؛ | 12 |
| 0 | 0 | 0.042 | 0 | 0 | 0.042 | 0 | 0 | 0.042 | په ملي ژبو کې د تازه درسي سرچینو نشتوالی. | 13 |

| شمیره | فرصتونه | ضریب | جذابیت | نمره | ضریب | جذابیت | نمره | ضریب | جذابیت | نمره |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د علمي کادر غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د زمینې شتون؛ | 0.0418 | 3 | 0.1254 | 0.0418 | 4 | 0.1672 | 0.0418 | 0 | 0 |
